دا د الله تعالى په نېز تر ټولو بد مخلوق دي

له أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې: ام سلمې رضي الله عنها رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د حبشې په خاوره کې د ماریا په نوم د یوې کلیسا یادونه وکړه، نو هغې ورته د هغو انځورنو یادونه وکړه چې په کلیسا کې یې لیدلي وو، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: «دا هغه خلک دي چې کله په دوی کې کوم نیک بنده یا نیک سړی مړ شي نو پر قبر یې جومات جوړوي او بیا پکې هغه تصویرونه انځوروي، «دا د الله تعالى په نېز تر ټولو بد مخلوق دي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

د مؤمنانو مور ام سلمه رضي الله عنها رسول الله صلى الله عليه وسلم ته یادونه وکړه، چې کله هغه د حبشي په خاوره کې وه، نو هلته یې د ماریا په نوم یوه کلیسا ولیده چې مجسمې، نقشې او انځورونه پکې وو؛ او تعجب یې ورته وکړ! نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته د دې انځورونو لاملونه بیان کړل؛ ویې فرمایل: دا خلک چې تا یې یادونه وکړه، کله چې پکې یو نیک سړی مړ شي، نو پر قبر یې جومات جوړ کړي او لمونځونه پکې کوي، او دغه انځورونه یې جوړ کړي دي، او دا یې په ډاګه کړه چې د دې کار کوونکی د الله تعالى په نېز بد مخلوق دی؛ ځکه چې دا کار یې د شرک لامل ګرځي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10887